د اُمت مسلمه د تربیّت مبارکه سلسله (۱)

منهج الغرباء...

في مواجهة الجاهلية

# دنا آشنا، نامشهورو غرباؤ کرنلاره

# د جاهلیَت مقابله کښې


تألیف:

شیخ عبدالمجید عبدالماجد

(استاذ السیاسة الشرعیة و فقه الواقع)

اهتمام و ترتیب و مراجعه وترجمه:

مفتی خالد شاه جهانگیروی

تخصّص (فقه اسلامی، حدیث نبوی ﷺ)

ماستر (سیاسیات)


نوټ: د دی کتاب ټول حقوق غیر محفوظ دی او هر مسلمان ته اجازه ده چی بغیر د څه تغیر او اضافی نه یٔ شائع کړی

منهج الغرباء في مواجهة الجاهلية

## د غرباؤ کړنلاره ...... د جاهلیت مقابله کښې

ان الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نستهديه ـ و نعوذ بالله من شرور أنفسنا و من سيآت أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ـ و من يضلله فلا هادي له ، و نشهد أن لا اله الا الله وحده لا شريك له ـ ونشهد أن محمدا عبده و رسولهﷺ اصطفاه الله نبيا و رسولا لتبليغ دعوته و نصرة دينه و اصطفى معه ثلة من غرباء أول الزمان ـ لمواجهة الباطل و حزبه فأبلوا بلاء حسنا ـ و كانﷺ قدوة لأصحابة الذين كانوا باتباعهم له قدوة لمن بعدهم ـ

أما بعد :ـ غرباء یعنی هغه څوک چی یواځی پاتی کیږی ـ ملګری ئی ډیر کم وی ـ دا هغه څوک دی ـ چی د دین په أصولو پابند أو د هغی مراعات کوی ـ بیا دا لړی د صحابه کرامؓ څخه شروع ده ـ چی هغوی ئی بنیاد

ايښىودونكي دي ـ كه څه هم په هره زمانه كښې داسې څوك وي ـ چې د هغوى په طريقه روان وي ـ لـه دې كبـلـه پيغمبر ﷺ فرمائي ـ په يو صحيح حديث كښې ـ

عليكم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدين المهديين من بعدى عضو عليها بالنواجذ و اياكم و محدثات الأمور فان كل محدثة بدعة و كل بدعة ضلالة ـ

ترجمه ـ لازمه ده ـ په تاسو زما طريقه أو زما د هغه خلفاؤ طريقه ـ چې صالحين أو هدايت مند دي ـ زما د وفات څخه روسته ، په دې كلكې خولې ولګوئ ـ أو په دين كښې نوي كارونه مه پيدا كوئ ـ ځكه هر نوى كار بدعت أو هر بدعت ګمراهي ده ـ (رواه أبوداؤد (١٠ـ١١)رقم ٤٦٠٦ـ٤١)

دا هغه څوك وو ـ چې الله تعالى د هغې په واسطه جاهليت ختم أو هغه زمكه چې دوى ئې مالكان وو ـ د انصاف أو رڼا څخه ډكه كړه ـ پس له دې چې د ظلم أو زياتي سره ډكه شوې وه ـ نو دوى د الله د صفت أو ستاينې ورسول ـ أو بدله ئې وركړه ـ لكه فرمائي ـ

و السابقون الأولون من المهاجرين و الأنصار و الذين اتبعوهم

باحسان رضی الله عنهم و رضوا عنه و أعد لهم جنات تجری تحتها الأنهار خالدین فیها أبدا ذالك الفوز العظیم ـ (سوره التوبه ۱۰۰)

ترجمه ـ أو هغه مخکښی کیدونکی اسلام ته له مهاجرو أو أنصارو څخه أو هغه چی په نیکو کښی ئی د دوی تابعداری کړی ده ـ أو الله له دوی څخه خوښ أو دوی له الله تعالی څخه خوښ دی ـ أو تیاری کړی دی ـ الله تعالی دوی لپاره جنتونه چی بهیږی لاندی د بنګلو د هغی څخه نهرونه ـ دوی به پکښی همیشه وی ـ دا لویه کامیابی ده ـ

بیا دا شریعه أصول دی ـ چی دا دین به نه مضبوتیږی ـ مګر د الله په مؤمنو بندګانو به خامخه أزمائیښت کیږی ـ

له دی کبله پیغمبرﷺ به همیشه خپلو تابعدارو ته د دی لاری سختنی أو تکلیفونه بیانول ـ أو فرمائیل به ئی ـ چی دا دین به بیا غریب کیږی ـ أو کوم کسان چی پری عمل کوی ـ هغوی به هم ځانله أو یوا ځی پاتی کیږی ـ أو دا د پیغبرﷺ معجزه وه ـ چی روسته پیښیدونکی قضیه ورته د مخکښی څخه معلومه وه ـ فرمائی ـ

بدأ الاسلام غریبا و سیعود غریبا فطوبی للغرباء ـ (أخرجه ابن

ماجه حديث رقم ٤٣٤٠ و مسلم مثله ج ١ ـ ١٣٠ )

ترجمه ـ اسلام غريب أو گوښه شروع شوى دى ـ أو بيرته به غريب أو ځانله پاتي كيږي ـ نو خوشحالي ده غريبانو لپاره ـ

**په راتلونكښو څوكښو كښي مونږ پدي رنړا أچوؤ**

١) ـ مشابهت په منځ د مخكښينو أو روستو غرباؤ كښي ـ أو د هغوى ايرادى أو پاک صادقه نفسونه ـ

٢) ـ أو همدغسي د دوى حريف جاهليت هم په يو طريقت دى ـ په مخكښي أو روسته زمانه كښي ـ

٣) ـ أو كوم مصائب أو تكليفونه أزمائيښتونه چي په غرباؤ راځي له دغه څخه درس أغستل ـ

٤) ـ مصيبت أو أزمائيښت د الله تعالى طريقه ده ـ په بندگانو كښي ـ هغه چي حق پرست دى ـ أو دغه أزمائيښت د دى دليل دى ـ چي په كومه لاره روان دى ـ دغه صحيح لاره ده ـ د باطل مقابلي لپاره ـ

٥) ـ زيري أو بدله كومه چي الله تعالى د ايمان والا او غرباؤ لپاره تياره كړي ده ـ

بیا به زمونږ طریقه داوی ۔ چې د رسول الله ﷺ د سنتو څخه استفاده ، أو د هغې تابعداری أو د هغې د وسنې حالت سره سمون ۔ نو مونږ دا مهمې نقطې لیکښو ۔ چې د رسول الله ﷺ د سنتو سره څنګه معامله وشې ۔ أو هغه أصل وګرځولې شي ۔

**مشابهت په منځ د پخوانیو أو**

**أوسنو غرباؤ کښې أو د هغوی دارادې لوئې والې**

ډیر کرت څوک وپوښتي ۔ چې دغه ډله چې په غرباؤ نو میالې ده ۔ په دغه جماعتونو کښې ۔ چې وس موجود دې ۔ کومه یو ده ۔ أو څه صفات لري ۔ چې د هغې په وجه له نورو څخه جدا أو ښکاره دي ۔

١) ۔ دا هغه څوک دي ۔ چې د پخوانیو حق پرستو پشان په خپله کړنلاره کښې یواځې دي ۔ په دین کلک ولاړ أو د سلفو تابعدار دي ۔

امام بغویؒ د دې آیت په تفسیر کښې وائی ۔ وممن خلقنا أمة یهدون بالحق و به یعدلون ۔ ترجمه ۔ أو زمونږ د مخلوق څخه یوه داسې ډله هم شته ۔ چې حق طرفته خلق هم رابلي

أو خپله هم پری برابر عمل کوی ـ

امام بغویؒ وائی ـ عطاء د ابن عباس څخه نقل کړی ـ چی له دی نه د پیغمبرﷺ أمت مراد دی ـ چی مهاجرین أو د هغی نیک تابعدار دی ـ أو قتاده وائی ـ پیغمبرﷺ دا آیت وؤلوسته ـ أو بیا ئی وو وئیل ـ دا ستاسو لپاره دی ـ أو مخکښی أمت ته هم داسی ورکړی شوی وو ـ ومن قوم موسی أمة یهدون بالحق و به یعدلون ـ

معاویهؓ فرمائی ـ ما د رسول اللهﷺ څخه أوریدلی دی ـ چی وئیل ئی ـ همیشه به وی زما أمت کښی داسی یوه ډله ـ چی د الله په دین به عمل کوی ـ دوی ته به ضررونه ورکوی ـ هغه څوک چی د دوی د کمزوری کولو کوښښ کوی ـ أو هغه څوک چی د دوی مخالفت کوی ـ تردی چی د الله أمر راشی ـ أو دوی به هم دغسی وی ـ (تفسیر بغوی ج ۳ـ ۳۰۸)

ابن حجر وائی ـ أحمد دارمی طبرانی د أبو جمعه څخه روایت کړی دی ـ فرمائی ـ چی أبوعبیده وؤ وئیل ـ یا رسول اللهﷺ زمونږ څخه څوک غوره شته ؟ مونږ ستا سره

ایمان راوړی دی ۔ أو جهاد مو درسره کړی دی ۔ پیغمبرﷺ وؤ وئیل ۔ یو قوم دی چې روسته به راځی ۔په ما به ایمان لری ۔ أو زه به ئې نه یم لیدلی ۔ أو دا صحیح حدیث دی ۔بیا هغه وائی چې پدیکښې دا سر دی ۔ چې أوله پیړۍ غوره ده ۔ ځکه هغوی کم وو ۔ أو کفار زیات وو ۔ هغوی ایمان راوړه ۔ أو د کافرانو په تکالیفو ئې صبر وکړو ۔ أو دین ئې ټینګ کړو ۔ نو همدغسې آخره پیړۍ چې کله دین باندې عمل شروع کړی ۔ أو په طاعت صبر وکړی ۔ په داسې وخت کښې چې ګناهونو لمن غوړولې وی ۔ نو دوی هم غوره دی ۔ کله ئې چې ئې عملونه د مخکښینو پشان پاک وی ۔ أو د دې دلیل هغه حدیث دی د مسلم :۔ د أبو هریره په روایت فرمائی چې ۔ اسلام په شروع کښې هم غریب أو ځانله وو ۔ مددګار ئې کم وو ۔ أو بیا به داسې وخت راشی چې غریب به شی ۔ نو خوشحالی ده ، دغریبانو لپاره کوم چې دغه وخت کښې په دین عمل کوی ۔ (فتح الباری ۔ ۱۰ ۔ ٤٤٠)

**۲) ـ دا هغه ډله ده**

**ـ چې غالبه ، نه ختمیدونکښې أو جهاد کونکښې ده ـ**

أو دا صفت ئې د عمران بن حصین په روایت کښې دے ـ چې د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي ـ همیشه به وي ـ یوه ډله زما د أمت څخه چې جنګ به کوي ـ د حق دین په خاطر ـ دا به په خپل حریف غالبه وي ـ تردې چې آخر ئې د دجال سره جنګ وکړي ـ (مسند أحمد ـ ۳۹۳/٤٠)

لکه ابن کثیر هم په خپل تفسیر کښې د صحیحینو حدیث ذکر کړې فرمائې ـ همیشه به وي ـ یوه ډله چې غالبه به وي ـ په حق دین به ټینګه وي ـ أو نه به پرېږي ـ له هغه چا چې دوي کمزوري کوي ـ یا ئې خلاف کوي ـ تردې چې د الله أمر راشي دوي به همدغسې وي ـ (تفسیر ابن کثیر ـ ٤٤٠١)

همدغسې نووي وائې ـ چې د جابر په روایت ئې په دغه معنې حدیث ذکر کړې ـ أو په آخر کښې وائې ـ چې د دغه ډلې آخر کښې به عیسیٰ راکوز شي ـ د دغه ډلې أمیر به ورته ووائې ـ راشه مونږ ته مونځ وکړه ـ هغه به ورته وائې ـ نه ، بلکښې ستاسو بعضې په بعضو أمیران دي ـ دا الله

تـعـالـی دی أمت ته عزت ورکړیدی ـ ( شـرح الـنووی علی مسلم ( ۱ ـ ۸۳ )

لـه دی أحـادیثـو څـرګـنـدیږی ـ چی هغه ډله چی الله ورسره نصرت کوی ـ أو پیغمبر ﷺ ئی ستائینه کړی ده ـ

أ) ـ شـرط ئـی جـنـګ کول دی ـ د الله تعالی لاره کښې ـ چی دیـن غالب أو ښکاره شی ـ لکه د مخکښې الفاظو د حدیث نه معلوم شول ـ ( شرح النووی علی مسلم ( ٦ ـ ٤٠٠ ) )

ب ـ دا هـغـه ډلـه ده ـ چـی ختـمیـږی نـه ـ ځکه پیغمبر ﷺ وائی ـ ( لاتزال ) همیشه به وی ـ

ج ـ دا بـه پـه دیـن أو حـق عـمـل کـوی ـ أو د سـلفو صـالحینو تابعداری به کوی ـ د قرآن أو حدیث هدایت به خپلوی ـ

نـو معلومه شوه ـ چی غالبه ډله هغه ده ـ چی جنګ کـوی ـ أو قـرآن أو سـنت باندی عمل کوی ـ أو نه ختمیږی ـ أو بـلـه ډلـه دا دعـوه نـه شـی کـولـی ـ اګر که د خیر څه کارونه کوی ـ تر څو چی جهاد ونکړی ـ

**<u>۳) ـ د دوی د مضبوطو عزمونو</u>**

**<u>أو رښتنی نفسـونو أو پوره کیدنکښو لوزونو بیان</u>**

د جاهليت په مقابله كښي أو د هغي د غلطي څخه د ځان ژغورلو كښي د ايمان خاوندان أو غرباء چي دوي به خپل ټول ځواک د دين په مدد كښي خرچ كوي ـ أو د هغي څخه ضرر دفعه كوي ـ أو په دي به صبر كوي ـ أو ثواب به ئي ګنړي ـ أو د الله تعالى سره خپل لوظونه پوره كوي ـ

مفسرين د دي آيت ـ من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه فمنهم من قضى نحبه و منهم من ينتظر و ما بدلوا تبديلا ـ لاندي ليكي ـ

چي د مؤمنانو څخه څه خلق دي ـ چي د الله تعالى سره ئي خپل لوظونه پوره كړل ـ په تكليفونو أو أزمائيښتونو ئي صبر وكړو ـ أو خاص كر د جنګ وخت كښي ـ نو چا خپل نذر أو منښته پوره كړه ـ شهيد شو د الله لار كښي ـ أو يا په ريښتيا أو وفا باندي مړ شو ـ أو بعضي بيا په انتظار دي ـ چي يا نصرت أو فتحه راشي ـ يا شهيدان شي ـ أو دوي نه خپل لوظونه بدل كړي أو نه ئي متغير أو مات كړي دي ـ لكه منافقانو چي بدل كړل ـ (التفسير الميسر ٧ـ٣٣٣)

أو دوی پـو هيـږی ـ چـی دوی د خـلـقـو پـه منځ كښې يـوائحی أو غرباء دی په خپـل دين باندی ـ د دی سره هم د الله په أمـر دوی غـالبـه دی ـ أو مـخالفين ئې څو مره كه ډير هم دی ـ دوی تـه ضـرر نه شي رسولائی ـ أو پيغمبرﷺ ورته (غرباء) أو (طـائـفـه) يـعنی ډله وئيلی دی ـ يعنی كم دی ـ خو دوی د الله تـعالی كتاب سره دی ـ هغه چی ئې چرته أړوی دوی هم هغه طـرفـتــه أوړی ـ نـو دوی مـنــاسـب دی ـ چـی اللـه ورسره مدد وكړی ـ ځكه ايمان كښې صادق أو په دين ئې مضبوط دی ـ

ابـن قيم په زاد المعاد كښې وائی ـ د الله تعالی وينه ده

ـ يا أيها الذين آمنو اتقو الله و كونو مع الصادقين ـ

**ترجمه** ـ مـؤمـنانو د الله څخه وډاريږی ـ أو رښتنو سره مـلـګـری شی ـ فرمائی ـ الله تعالی خپـل بندګان دوه قسمو ته ويشـلی دی ـ نيـک بختـه أو بد بختـه ـ نو نيـک بختـه د رښتيا أو رښتـنـوالـی خــانـدان دی ـ أو بـدبختـه د دروغو أو د دروغو نسبـت كـولـو خـانـدان دی ـ نو دا يو عام أو محدود تقسيم دی ـ نيـک بـختـی د رښتيا أو رښتنوالی سره ګرځی ـ أو بدبختی د دروغـو أو د دروغـو نسبـت كـؤنـكـو سره ګرځی ـ الله تعالی

وائي چي قيامت كښي صرف رښتيا فائده وركوي ـ أو بيا د منافقانو علامه ئي ـ چي دوی پری وپيژندلی شي ـ د دروغو په وينا أو كارونو كښي ـ نو دوی چي هر خباثت كوی ـ جرړه ئي دروغ دی ـ په وينا أو كار كښي ـ نو رښتيا د ايمان ډاګی لاربښود سورلی چلونكښي ګنړه أو جامه ده ـ بلكه دا ئي مغز أو روح دی ـ أو همدغسی دروغ ډاګی أو لابښود د كفر نفاق دی ـ أو د دی سورلی قائد ګنړه لباس أو مغز دی ـ نو د دروغو د ايمان سره داسی ضد دی ـ لكه د شرك چي د توحيد سره دی ـ نه جمع كيږی ـ دروغ أو ايمان مګر يو به خامخا بل تختوی ـ أو شړی ـ أو ځائي به ئي نيسي ـ (زاد المعاد ـ ۳ ـ ۵۱۱)

بيا د دوی ايمان په خپل رب د طوغيتو د حسد أو دښمني څخه قوی أو د غره څخه مضبوط دی ـ ځكه دوی قرآن كښي لولي ـ و لينصرن الله من ينصره ان الله لقوی عزيز ـ الذين ان مكناهم فی الأرض أقاموا الصلاة و آتو الزكاة و أمرو بالمعروف و نهو عن المنكر و لله عاقبة الأمور ـ

ترجمه ـ أو الله به مدد كوی ـ د هغه چا چي د دين مدد كوی ـ الله زورور أو غالب دی ـ هغه كسان چي كه مونږ په

زمکه کښې ځائې (اقتدار) ورکړو ـ مونځونه به کوی ـ أو زکات به ورکوی ـ نیکو ته به خلق بلی ـ أو له بدو څخه به خلق منع کوی ـ أو الله لره انجام د ټولو کارونو دی ـ

دوی پوهیږی ـ چې ورځې أوړی را أوړی ـ أو د جاهلیت شپه أوګده نشی پاتې کیدائې ـ لکه الله فرمائې ـ و تلك الأيام نداولها بين الناس ـ

أو دوی د پلرونو عزت هغه چې دنیائې د انصاف أو رڼړا څخه ډکه کړی وه ـ خامخا بیرته راګرځونکښې دی ـ څکه پیغمبرﷺ زیری راکړی دی ـ خو د الله تعالی چې په خپلو کارونو کښې کومه طریقه ده ـ هغه تر هغې واقع کیدونکښې ده ـ تر څو چې الله تعالی غواړی چې وی دی ـ دغه خبره د هغوی په زړونو کښې وی ـ بلکه تری ډک وی ـ شاعر وائې ـ

ملكنا أقاليم البلاد فأذعنت ـ لنا رغبة أو رهبة عظماؤها

فلما انتهت أيامنا علقت بنا ـ شدائد أيام قليل رضاؤها

و صرنا نلاقي النائبات بأوجه ـ رقاق الحواشي كاد يقطر ماؤها

اذا ما هممنا أن نبوح بما جنت — علینا اللیالی لم یدعنا

حیاؤها

ترجمه ـ وائی چې مونږ ډیرو ملکونو پلا زمکی نیولی دی ـ أو د هغی مشران مو د ځان تابع کړی ـ یا په خوشحالی أو یا په ویره بیا کله چې زمونږ ورځی پکښې ختمی شوی ـ مونږ د شپو سختیو راګیر کړو ـ پداسی حالاتو چې مونږ ډیر کم خوښول ـ بیا مونږ د مصیبتونو سره په مختلفو طریقو مخامخ کیدو ـ تردی چې أوبه ئې ختمییدو ته نزدی شوی ـ مونږ چې کله هم قصد وکړو ـ چې چغی وهو په هغه سزا چې راکړ شوی ده ـ نو د شپو سره حیا کول مو چغو ته نه پریږدی ـ

**<u>د تولو زمانو جاهلیتونه</u>**

**<u>د حق پرستو مقابله کښې یو د بل سره تړاؤ لری</u>**

جاهلیت که هره زمانه کښې وی ـ خو هم هغه جاهلیت دی ـ نوعه ئې نه بدلیږی ـ

شوکانی وائی ـ ابن جریر ابن منذر ابن أبی حاتم ابن

مردویه وائې ـ د ابن عباس څخه عمر بن الخطاب پوختنه وکړه ـ چې الله تعالی د پیغمبر بیبیانو ته وائې ـ و لا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى ـ آیا جاهلیت یو ندی ؟ نو ابن عباس وه وئیل ما چرته أولی ندی أوریدلی مګر د هغې أخر هم وی ـ
( فتح القدير ـ ٦ ـ ٤٠ )

أو هر چې د دې زمانې جاهلیت دی ـ نو بهتر هغه څوک دی ـ چې د هغې څخه پرده وچته کړی ـ أو د هغې ګمراهي أو تزخرف ئې ښکاره کړی ـ شیخ سید قطب شهیدؒ الله تعالی دې په شهداؤ کښې قبول کړی ـ

هغه د جاهلیت معاصر باره کښې وائې ـ هر چې أول جاهلیت دی ـ د هغې صحیح بیان جعفر بن أبی طالبؓ کړی ـ کله ئې چې د نجاشي سره خبرې کولې ـ هغه وخت چې د قریشو دوه أستاذی راغلی وو ـ د امام أحمد روایت کړی حدیث کښې ـ هغه وائې ـ أے بادشاه مونږ جاهل قوم وو ـ د بتانو عبادت مو کوؤ ـ مرداره مو خوړه بدکاری مو کولې ـ د خپلوی رګونه مو شلول ـ د ګاونډی سره مو بده معامله کوله ـ أو قوی أو زورور کمزوری خوړه ـ

أو هغـه آثار چې مونږ ته د أول جاهليت بيان کوی ـ د عـائشةؓ حـديـث دی ـ کـوم چـې بـخاری روايت کړی ـ هغه د جاهـليـت د نکاح بيانوی ـ فرمائی ـ جاهليت کښې نکاح په څلـور قسـمه وه ـ بيا وائی ..... کله چې پيغمبرﷺ رامبعوث شـو ـ ټول نکاحونه ئی ختم کړه ـ مگر دا يوه نکاح چې خلق ئی أوس کوی ـ

بيـا شيـخ زيـاتوی فرمائی ـ جاهليت جاهليت دی ـ أو هـر جاهليت لپاره خپل رزالت أو خباثت وی ـ که په هره زمانه کښـې واقـع کيـږی ـ أو هر ځائی کښې واقع کيږی ـ خو کله چې هم د خلقو زړونه د صحيح أو راسخې عقيدې څخه خالی شـی ـ بيـا ئـی جاهليت په فکر حاکم شی ـ أو چې کله ئی هم زنـدگـی د شـريـعـت غذاء څخه خالی شی ـ نو جاهليت ئی په زنـدگی کښـې حـاکم شی ـ نو جاهليت په دغه وخت کښې په يو نوی صورت أو شکل کښې ځائی نيسی ـ

بيا دا وسنی جاهليت چې د شريت سره ملاست أو غيږ کښـې نيولی دی ـ دا د هغه جاهليت سره چې د عربو په زمانه کښې وو ـ هيڅ توپير نه لری ـ

هم دغه شان ټول جاهليتونه چې د زمکې په کوم ګټ کښې ئې ځائې نيولې ـ تر څو ترې اسلام دغه زمکه خلاصه کړي أو پاکه ئې کړي ـ

د نړۍ انسانان نن په ډير فاحش چاپيريال کښې ساه أخلي ـ که مونږ لږ نظر وکړو ـ د دې زمانې صحافت ، فلمونو ، ميلو د حسن مقابلو د نڅا مجلسونو ، شرابخانو خبرونو د ښځو بربندېو ګرځيدو ، أدبي أو فني مقالو أو په تيره بيا د تبليغاتو سامانونو ته ـ أو په څنګ کښې ورسره سودي نظام أو د مالونو د ګټلو غلطو أو پريوتو طريقو أو دې لپاره مختلفې طريقې أو لارې جوړول ـ أو غلو کول ـ أو بيا ديته د قانون جامه أغوستل ـ أو بد أخلاق خپلول ـ دا ټول هغه څه دي ـ چې نن هر کس هر کور هر نظام أو هره انساني اجتماع ئې تهديدوي ـ کله چې ديته نظر وکړو ـ بايد وه وايو ـ أو حکم وکړو ـ چې نړۍ ډير بد سرنوشت ته نژدې شوې ده ـ کوم چې د دې جاهليت لاندې پټ دی ـ ( في ظلال القرآن ۱ ـ ۱۰ ۵ )

## جاهليت د قرآن په رڼا کښې

قرآن کریم فرمائی ـ چې جاهلیت په څلورو أصولو أو بنیادونو بنا دی ـ أو هغه دا دی ـ

حکم الجاهلية ـ ظن الجاهلية ـ تبرج الجاهلية ـ حمية الجاهلية

ـ

حکم الجاهلية ـ دا په وضعي قوانینو کښې ښکاری ـ کوم چې په ظلم په خلقو ایښودلی شوی ـ د حکامو لطرفه ـ دا هغه قوانین دی ـ چې د اسلام د أحکامو أصولو فروعو خلاف دی ـ أو شیخ أحمد شاکر په ډیر ښه شکل کښې بیان کړی وائی ـ مسلمانان دی د نړۍ په ټولو اسلامی أو هغه هیوادونه چې ځان اسلام ته منسوبوی ـ ګوری چې ستاسو دښمنانو په تاسو د استعمار أو بشر دوستی په نامه څه وکړه ـ په مسلمانانو ئی دګمراهی قوانین کښودل ـ چې أخلاق آداب أو أدیان د تباهی سره مخ کوی ـ دا د غرب شرکی قوانین چې نه په کوم شریعه أو نه په دین بناء دی ـ بلکه دا بناء دی ـ په داسی قواعدو چې یو کافر مشرک سړی ایښی دی ـ د عیسئ چې د وخت پیغمبر وه ـ د طاعت څخه ئی انکار وکړه ـ أو په خپل شرک بت پرستۍ اصرار وکړه ـ تر څو

ئې چې نړۍ ته ئې دغه فسق فجور أو شرم راوړۀ ..... بيا فرمائي دغـه قوانين چې په مسلمانونوايښودلي شوي دي ـ د اسلام د دښـمنانو له طرفه دا په حقيقت کښې د بل دين دي ـ أو دا ئې د مسـلمانانو دين کړه ـ د صحيح أو پاک دين په بدل کښې ـ أو د هـغـې ديـن طاعت پرې لازم أو د هغې محبت ئې ورته په زړه کښې وه کـره ـ أو د هـغې لپاره عصبيه أو د هغې پاکوالي أو تـقـدس ئـې هـم پـرې ومـنۀ ـ تردې چې په ډير ژبو أو قلمونو د هـغې تقديس أو په هغه قانون فيصلې شروع کړې ـ لکه يو د هغې د محکمې قوانينو ته درناوي أو د محکمې عزت کول ـ أو هـم دغـسې نـور چـې دغسې درناوي شرعي قوانينو ته أو د فـقهـاء آراؤ تـه نـه کـوي ـ بلکه شريعه اسلامي پسته أو جامد قـانـون بـلـي ـ لـکـه داسـې خبـرې تـاسو پـه مجلو ،أخبارو أو عـصـري کتـابونو کښې ډيرې وينې ـکوم چې دغه بت پرست أو د هـغوي اتباع ليکي ـ بيا دغه قوانين چې انسانانو وضعه کـړي دي ـ د دي لـو ستـو تـه فـقـه أو فـقـيه تشريع أو مشرع أو داسـې نـورې کلمې استعمالوي ـ کومې چې علماء د اسلام د شـريـعـت لپـاره استـعـمـالـوي ـ أو بيا يو بل قدم أخلي ـ دغه

قوانین د شرعی قوانینو سره برابره وی ..... بیا شیخ فرمائی ـ تردی چی دغه نوی دین أساسی قاعدی شوی ـ کومو ته چی مسلمانان خپلی فیصلی وړی ـ أو فیصلی پری کوی ـ د اسلام په مختلفو دولتونو کښې ـ که دغه بیا د شریعه سره موافق وی ـ که مخالف دا ټول باطل أو له دین څخه وتل دی ـ ځکه کومی چی د شریعت سره موافق دی ـ دا خوبی له قصده موافق دی ـ نه د اتباع له کبله أو نه د دی لپاره چی الله أو رسولﷺ دین حاکموی ـ نو موافق أو مخالف ټول د ګمراهی په کړی کښې بند دی ـ کوم چی ئی جهنم ته کش کوی ـ مسلمان ته ندی جائز چی دغه ته تابع أو یا پری رضا شی ـ (عمده التفسیر ـ ۳ـ ۲۱۴ـ ۲۱۵)

ظن الجاهلیه

أبو حیان فرمائی ـ خپل تفسیر کښې د دی قول په باره کښې ـ یظنون بالله ظن الجاهلیه ـ د ظن الجاهلیه معنی دا ده ـ د جاهلیت هغه مده أو زمانه چی د اسلام څخه مخکښې وه ـ لکه د (حمیه الجاهلیه) أو (تبرج الجاهلیه) باره

کښې ئې چې وئیلې دی . أو لکه شعر الجاهلیه . مقاتل وائي . گمان ئې کوه چې کار ئې ختمیدونکښې دی . زجاج وائي . مده ئې ختمه ده . ابن عباس وائي . گمان ئې کوی . چې پیغمبر وفات شوی دی .

بل قول دا دی . چې ظن الجاهلیه دیته وائي . چې سړی عقیده ولری . د بطلان د نبواتو أو شرایعو . بل قول دی . چې د الله د نصرت څخه نا أمیده کیدل . أو د نصرت وعده کښې شک کول . بل قول دا چې داسې گمان کول . چې کفار په حقه دی . ځکه غالب شول . یا معنی دا چې په تقدیر ایمان نه لرل . زمحشري وائي . د دی داسې مثال دی . لکه . حاتم الجود و رجل صدق . معنی هغه گمان چې په جاهلیت پوری خاص دی . أو یا د جاهلیت د خلقو گمان . یعنی داسې گمان نه کوی . مگر مشرکان . چې الله نه پیژنی . (تفسیر البحر المحیط لابن حیان ۳ـ ۳۲۷)

ابن قیم زاد المعاد کښې د ظن الجاهلیه معنی کوی . فرمائي . الله تعالی صحابه په خپل رحمت کښې راگیر کړه . أو غم ئې تری سپک کړه . أو د خوب په واسطه ئې تری لری

کړه ـ کوم چي الله د أمن أو رحمت لپاره راولیږه ـ أو خوب د جنګ وخت کښي د نصرت أو أمن علامه ده ـ لکه د بدر په ورځ ئي نازل کړی وه ـ أو الله وه وئیل ـ چي کومو کسانو ته دغه خوب ورنه راغی ـ دا هغه څوک وه ـ چي داسي ګمان ئي کوه ـ چي د الله سره نه مناسب أو هغه دا چي الله د خپل رسول نه کوی ـ أو دغه دین ختمیدونکښي دی ـ أو خپل رسول ئي پریښوده چي خلق ئي مړ کړی ـ أو یا دا چي دغه څه چي واقع شول ـ د دی فیصله الله نه وه کړی ـ أو نه ئي پکښي حکمت وو ـ نو د تقدیر أو حکمت سره انکار وو ـ أو لدی چي الله د رسول دین نه پوره کوی ـ أو نه ئي غالبه کوی په نورو أدیانو ـ أو دا هغه بد ګمان وو ـ چي منافقانو أو مشرکانو کوؤ ـ الله تعالی په سوره فتحه کښي فرمائی ـ و یعذب المنافقین و المنافقات و المشرکین و المشرکات الظانین بالله ظن السوء علیهم دائرة السوء و غضب الله علیهم و لعنهم و أعد لهم جهنم و ساءت مصیرا ـ ( سوره الفتح ـ ٦ )

أو دا بد ګمان أو د جاهلیت ګمان وو ـ چي د جهل خاندانو ته منسوب دی ـ أو صحیح ګمان څکه نه وو ـ چي

داسې ګمان د الله تعالی د اسماء حسنی أو صفات عالیا أو پاک ذات سره چې د هر عیب أو بدی څخه پاک دی ـ نه وه مناسب ـ أو خلاف وو ـ د هغه څه چې د الله تعالی د حکمت صفت یووالی په ربوبیت أو ألوهیت سره مناسب دی ـ أو د هغه چې مناسب وی ـ د الله د رښتنی وعدی ـ کموه چې خلاف نه کوی ـ أو هغه وعده چې د پیغمبرانو سره ئې کړیده ـ چې زه به ستاسو نصرت کوم ـ کمزوری ته به مو نه پریږدم ـ أو نه ستاسو لښکر أو هم دوی به غالبه وی ـ

نو هر څوک چې ګمان کوی ـ چې الله د پیغمبرانو نصرت نه کوی ـ أو دین ئې نه پوره کوی ـ أو هغه أو د هغه لښکر نه مضبوتوی ـ أو په دښمنانو ئې نه غالبه کوی ـ أو د دین أو کتاب نصرت نه کوی ـ أو شرک په توحید مخکښې کوی ـ أو باطل په حق مخکښې کوی ـ داسې مخکښې کول ـ چې توحید ورسره ختم شی ـ أو داسې ختم شی ـ چې بیا نشی جوړیدلائی ـ نو دا په الله بد ګمان دی ـ أو نسبت ئې وکړه ـ خلاف د هغه څه ته چې د الله د کمال أو جلال صفتو سره مناسب وی ـ أو د الله تعالی صفت ، عزت حکمت الهیه

لـه دى انكـار كـوى ـ أو انكـار كـوى ـ چى خپل لښكر دى كـمـزورى كـړى ـ أو هـميشـه دى نـصـرت أو فتـحـه د اللـه مشـركانو دښمنانو سره وى ـ كه چا داسى ګمان وكړه ـ ده الله نـه دے پيـژنـدلـى ـ أو نه ئى ورله أسماء صفات كمال پيژندلى دى ـ

أو ډيـر خلق داسى وى ـ چى په الله غلط ګمان كوى ـ د ځـان بـاره كښـى ـ أو يـا د نـورو خـلـقو باره كښى ـ أو لـه دى څـخـه نـه بـچ كيـږى ـ مـګـر هـغـه څـوک چى الله تعالى ئى پيـژندلى وى ـ أو د هغه أسماء و صفات ئى پيژندلى وى ـ أو د الـله تعالى د حمد أو حكمت موجب أو لزوم ئى پيژندلى وى ـ څـوک چـى د الله څخه نا أميده شو ـ أو د هغه د رحمت څخه أو د هغه د مهربانى. څخه نو الله تعالى ئى بد ګمان وكړو ـ

أو كـه څـوک ګمان كوى ـ چى الله تعالى خپـل أولياؤ تـه عـذاب وركـوى ـ سره د هغوى د احسان أو خلاص څخه أو هـغوى د خپلو دښمنانو سره برابره وى ـ نو په الله ئى بد ګمان وكړه ـ

أو كـه چا ګمان وكړه ـ چى د الله ځـئى شريک شته أو

یا څوک د الله په مخکښې د هغې د اجازې څخه پرته شفاعت کولی شي ـ أو یا د هغه أو د بندګانو منځ کښې واسطې دي ـ چې خپل حاجات الله ته پرې پیش کوي ـ أو یا ئې د خپلو بندګانو لپاره بزرګان مقرر کړي دي ـ چې الله ته پرې ځان نزدې کړي ـ أو سفارش ورلره وکړي ـ نو دا واسطې دي د الله أو بندګانو منځ کښې ـ دوی ته رامدد شه وائي ـ أو محبت ورسره کوي ـ ترې یریږي ـ أو أمید ترې ساتي ـ نو ده په الله ډیر قبیح ګمان وکړه ـ أو که څوک ګمان کوي ـ چې الله تعالی په خپل رسول باندې دښمنان مسلط کوي ـ همیشه په ټوله زمانه کښې أو مرګ کښې ـ أو الله تعالی په خپل رسول امتحان کړه ـ چې ترې نه جدا کیدل ـ تر څو هغه وفات شو ـ نو په خلافت ئې راټوپ کړه ـ بغیر له کوم وصیت څخه ـ أو په أهل بیتو ئې ظلم وکړه ـ أو ذلیله ئې کړه ـ أو عزت غلبه أو زور د هغې د دښمنانو وه ـ همیشه پرته له کوم جرم یا ګناه چې د أولیاؤ څخه ئې شوې وي ـ یا د أهل حقو څخه شوې وي ـ أو د دغه دښمنانو غلبه أو له دوستانو څخه ئې حقوق أخستل ـ أو د هغې د نبیﷺ دین بدلول ـ أو سره له دې چې

الـلـه په خپلو أو د هغوی په دښمنانو قادر وو ۔ أو د دوستانو په نـصـرت قـادر وو ۔ خـو نصرت ئې ورلـه نه کوؤ ۔ أو دوی ئې نه غالبه کول ۔ بلکه دښمنان ئې ورله غالبه کول په دوی همیشه ۔ أو یـا الـلـه تـعـالـی په دې ندی قادر بلکه دا کارونه بغیر د الله تـعــالــی د قـدرت أو ارادې څـخـــه څـادريـــږي ۔ أو دغـه د دین بـدلـؤنـکـښـې د پیـغـمبر سره په قبر کښې هم یو ځائې دی ۔ أو أمت په پیغمبر هم سلام أچوی ۔ أو په هغوی ئې هم أچوی ۔ هـر وخـت لـکـه څـنګه چې رافض دا ګمان کوی ۔ نو دا په الله ډیـر قـبیـح ګمان دی ۔ أو د بدو بد دی ۔ هغوی وائی ۔ چې الله تـعـالـی قـادر دی ۔ پــه دې چـې دوی تــه بادشاهی ورکړی ۔ أو نصرت ورلره وکړی ۔ أو غالب ئې کړی ۔ أو یا ندی قادر پدی ۔ نو دوی د الله تعالی په قدرت حکمت حمد عیب لګوی ۔ أو دا بد ګمان دی ۔

أو پـدیـکښـې شک نشته ۔ چې الله دا کارونه کوی ۔ بـد ئـې کړی هغه څوک چې دا ګمان پری کوی ۔ أو واجب خو دا وه ۔ چـې داسـې ئـې نـوائـې کړی ۔ بلکښې د دې خلاف ئې کـړائـې وی ۔ لیـکـن دې ظـالمانو خپل فاسد ګمان ته په داسې

څه تېوتې واچولې ـ چې د ګمان څخه ئې ګناه ډېره وه ـ أو د ګرمې څخه وتختېدل ـ أور کښې ئې ځانونه واچول ـ نو دا ئې وؤ وئيل ، دا کارونه د الله په اراده نه کيږي ـ أو نه د دې په منع کولو الله تعالى قادر دی ـ أو نه د خپلو أولياؤ په مدد قادر دی ـ نو الله تعالى د بندګانو په مدد قادر ندی ـ أو نه د بندګانو أعمال د الله د قدرت لاندې دي ـ نو دوی په الله د خپلو وړونو مجوسو پشان ګمان وکړه ـ أو د بت پرستو پشان ـ نو هر کافر باطل پرست بدعتي ذليل په الله تعالى داسې ګمانونه کوي ـ (زاد المعاد ـ۳ـ ۲۰۳ـ ۱۱۲)

## تبرج الجاهليه

دا مثال دی ـ د هغه اجتماعي فاسد نظام بدبويه أو فاحش نظام کوم کښې چې جاهليت والا ژوند کوو ـ

بقاعي په نظم الدرر کښې وائي ـ (تبرج الجاهليه الأولى)

مراد هغه نظام چې د اسلام څخه مخکښې وو ـ أو هغه چې د حجاب د نازليدو څخه مخکښې وو ـ چې د يو کور څخه به

وتل أو بل کور به ننوتل ـ (نظم الدرر للبقاعي ٦ ـ ٢٢٤)

ابن الجوزي په زاد المسير کښې وائي ـ په (تبرج الجاهلية الأولى) کښې شپږ قوله دي ـ

أول ـ ښځه به وه وتله ـ أو د خلقو منځ کښې به روانه وه ـ لکه مجاهد وائي ـ

دوهم ـ قتاده وائي ـ هغه مزل، چې يو قسم ميلان أو حلول پکښې وي ـ

دريم ـ ابن نجيح وائي ـ هغه مزل چې تکبر پکښې وي ـ

څلورم ـ کلبي وائي ـ ښځې به په خپل قميص کښې ملغلرې ولګولې ـ أو وبه ئې غوستله ـ بيا به د لارې منځ کښې روانه وه ـ أو بله جامه پرې نه وه ـ أو دا د ابراهيم زمانه کښې وه ـ

پنځم ـ مقاتل وائي ـ چې زنانه به د مخه پړونے لرې کړه ـ أو په سر کوو به ئې نه ـ نو غوږ، والۍ أو أميلونه به ئې ښکارېدل ـ

شپږم ـ فراء وائي ـ چې ډېرې قيمتي جامې به ئې په غاړه وې ـ خو بدن به ئې پکښې پټ وه ـ (زاد المسير ـ ٥، ١٣٣)

أو تابعينو چې دا کومې معانې کړې دي ـ دا زمونږ په

زمـانه کښې په کامله وجه موجود دی ـ کله چې لارو بازارونو تـجارتی ځایونو د اعلام په وسائلو چې د لیدو سره تعلق لری ـ که د أوریدو سره تعلق لری وګورو ـ

لیـکـن نـن ښځې په داسې قانون روانې دی ـ چې هغه ئـې پـه فـواحشـو أو بـدکـاریو زړۀ وره کوی ـ أو دا خو پریګده چې کومې عفیفې زنانه وی ـ د هغوی پسې کومې مسخرې أو ټوکـې کـوی ـ أو د هـغـوی د حـجـاب پوری بلکـه هغوی هـغوی ته وائی ـ چې تاسو بې سواده أو بې تمدنه یاستې ئې ـ أو کـومـې چـې بـربـنـډې دی ـ د هـغـوی صـفـتونـه کوی ـ أو متمدنې أو باسواده ئې بلې ـ

شاعر ته دی الله خیر ورکړی وائی ـ

اذا کان ترك الدین یعنی تقدما ـ فیـا نـفـســی موتـی قبل أن تتقدمی

معانی ـ که دین پریښودل تمدن وی ـ نو نفسه مړ شه ، مخکښې له دی چې متمدن شې ـ

<u>حمیة الجاهلیة</u>

دا هغه د قومیت أو تعصب عقیده ده ـ چې پدی عصر کښــې پــه ټــول عــالــم سرداره ده ـ أو له هغې له کبله ولاء ، بلاء یـعنې دوستې أو دښمنې کیږی ـ أو خلق په ملکونو أو رګونو ویشــې ـ أو پــه دیانه ئې نه ویشې ـ أو د هغې له کبله جنګونه أو ویـنې توئیږی ـ أو متعصبین أو علمانیین کوښښ کوی ـ چـې دا مضبوط أساس وګرځوی ـ د ملک أو قومونو د ساتلو أو حفاظت لپاره ـ

شیـخ سیـد قطب وائی ـ حمیه الجاهلیه أو د عصبیت چغه دا په ګناه أو زیاتی د انسان سره تعاون کوی ـ ډیر نزدی أو راجح دی ـ چې په تقوی أو نیکښې دی کومک وکړی ـ أو د سړی سـره ئـې پــه بــاطـل کښــې نـصـرت کول ـ د حق څخـه مخکښې دی ـ أو په جاهلیت کښې داسې ډیر کم وو ـ چې په حـق کښــې دی لــه چا سره مدد وکړی ـ أو دا بیا طبعی ده ـ په هـغـه ماحول کښې چې د الله تعالی سره ئې کوم تعلق نوی ـ أو د هـغـې رواجـونـه أو أخـلاق عـادات د الله تعالی د منهج أو میــزان څـخــه نـوی أخسـتـلــې شـوی ـ أو د دی تصور پـه دی جاهـلـی متـل کښـې دی ـ انصـر أخـاک ظـالما أو مظلوما ـ

یعنی د ورور نصرت وکړه . که ظالم وی أو یا مظلوم وی . أو جاهل شاعر وائی .

و هل أنا الا من غزیة ان غوت ـ غویت و ان ترشد غزیه أرشد

(فی ظلال القرآن ۲ ـ ۳۱۰)

وائی . مضبوطونکے یم . د هغه چا چی ظلم کوی . زه هم ورسره ظلم کوم . أو که په سمه ځی زه ئی په سمه مضبوتوم .

أو دا مصیبت ډیرو خلقو ته رسیدلی دی . چی محبت أو بغض ، دوستی أو دښمنی په قومیت ، قبیله أو ژبی پوری تړلی دی . بلکه وائی . د دوستی أو دښمنی لپاره تله گرځولی ده . أو کوښښ کوی . ډلی جوړی کړی . بلکه أمتونه جوړ کړی . پدی أساس لکه أمت عربی که مسلم وی ، که مرتد وی که کافر أو یهودی ، نصرانی ، مجوسی ، لادینی دشیطان بنده أو د بتانو بنده ولی نه وی . خو په یو ملت عربی باندی په یو دسترخوان راجمع کیږی . أو د یوی جنډی لاندی جمع کیږی . دا جاهلیت دی . أو د الله د اسلام د عقیدی لپاره پکښی هیڅ برخه نشته . أو مناسب ده . چی پیغمبرﷺ

سنت ولټوؤ ـ أو ښکاره کړو ـ چی څنګه پیغمبرﷺ د دی بلاء سره مقابله کړی ده ـ

پیغمبرﷺ د دی بلاء مقابله کښی واضحه أو ښکاره وؤ ـ د هغه ټول کارونه اجتماعی وه ـ أو تجزیه ئی نه قبلؤله ـ أو همدغسی د هغی ملګری تابعدار د أولی زمانی غرباء ، أو همدغسی بایـد آخر هم وی ـ نو دوستی أو دښمنی نه وه ـ مګر د شریعت د أساسو مطابق وه ـ ابن کثیر ئی بعضی مواقف ذکر کړی دی ـ د هغه د سیره څخه ـ

أبو طالب ته د قریشو څو مشران راغلل :ـ عتبه شیبه د ربیعه ځامن أبو سفیان بن حرب أبو البختری الأسود بن عبد المطلب أبو جهل ولید بن مغیره نبیه منبه د حجاج ځامن عاص بن وائل أو څه نور ـ أبو طالب ته ئی وؤ وئیل ـ أی أبو طالبه ستا وراره زمونږ آلهه ته کنځل أو زمونږ دین ئی تهمتی کړه ـ أو زمونږ عقلونه ئی بی عقله کړه ـ أو زمونږ پلاران ئی ګمراهان کړه ـ نو یا خو ئی مونږ څخه بند کړه ـ أو یا ئی مونږ ته پریګده ته هم د هغه د دین خلاف ئی نو مونږ به ئی دواء وکړو ـ ( السیره النبویه لابن کثیر ـ ۱ ـ ۴۷۳ )

دا د پیغمبرﷺ د قوم حال وو ـ د هغه سره أو صحابه کرامو ته ئې هم دغسې سیره خودلې وه ـ

ابن کثیر په سیره کښې وائي ـ چې أبو عزیز بن عمیر بن هاشم د مصعب بن عمر د پلارنی أو مورنی څخه ورور وو ـ دا د بدر په بندیانو کښې وو ـ أبو عزیز وائي ـ مصعب بن عمیر په ما راتیر شو ـ أو د أنصارو یو کس زه تړلې وم زما ورور ورته وؤ وئیل ـ لاسونه دې پرې خه تینګ کړه ـ د مور سره ئې پیسې ډیرې دي ـ تاته به ئې فدیه کړي ـ

أبو عزیز وائي ـ زه د أنصارو یګ یو قبیله کښې وم ـ کله ئې چې د بدر څخه راوستلم ـ نو کله به ئې چې د ماسپخین أو یا د ماښام روټۍ خوړله ـ نو ماته به ئې روټۍ راوغوځوله أو پخپله به ئې کجورې خوړلې ـ ځکه پیغمبرﷺ ورته وصیت کړی وو ـ چې زمونږ سره نیکي وکړي ـ یو کس لاس ته به روټۍ نه ورتله مګر ماته به ئې غورځوله ـ ما به د حیاء نه بیرته ورته وؤ غورځوله ـ بیا به ئې راوؤ غوځوله ـ

أو أبو عزیز هغه څوک وو ـ چې د مشرکانو جنډه

ورسره وه ـ د بدر په ورځ پس د نضر بن الحارث ځخه ـ

کله چې أبو عزیز ته خپل ورور دا خبره وکړه ـ هغه ورته وؤ وئیل ته زما په باره کښې دا وصیت کوی ـ هغه ورته وؤ وئیل زما ورور دا بل صحابی دی ـ بیا ئې مور په څلور زره درهم آزاد کړه ـ ( السیره النبویه لابن کثیر ـ ۲ ـ ۴۷۵ )

روض الأنف والـه وائی ـ پـه جاهلیت کښې بـه چې سړی غـصـه شـو ـ نـو خپل عصبیه أو قومیت ته به ئې آواز کـوو ـ پیغمبرﷺ و مریسـع پـه ورځ وه وئیل ـ أی مهاجرو راجمعه شی ـ أو بل وه وئیل ـ أی أنصارو راجمعه شی ـ پیغمبرﷺ ورته وؤ وئیل ـ دا خبره پریګدی ـ دا بدبویه خبره ده ـ أو وه ئې وئیل ـ چا چې د جاهلیت آواز وکړه ـ د پلار په عوره ورله چک ولګوی ـ أو په صراحت سره ورله پلار یاد کړی دی ـ أو یو سړی نابغه الجعدی د عصبیه آواز وکړه ـ أبو موسی الأشعری پنځوس دری وه وهه ـ أو وؤ ئې وئیل ـ چې مؤمنان یو متهی دی ـ أو ورونه دی ـ أو څوک به بل ته آواز نه کوی ـ مګر د عمر پشان آواز ـ چې وه ئې وئیل ـ أی د الله لپاره أو أی مسلمانانو ځکه تول یوه ډله أو یو ورونه دی ـ

په دین کښې ـ( الروض الأنف ـ ۱ ـ ۲۴۷ )

ماوردیؒ وائي ـ دی آیه کښې قریش مراد دی ـ اذ جعل الـذیـن کفروا فی قلوبهم الحمیه حمیه الجاهلیه ـ أو جاهلیت کښې دوه قوله دی ـ

أول ـ دا چې د خپـلو آلهوؤ لپاره تعصب أو انکار کول ـ د بل چا له عادت څخه ـ

دوهـم ـ انـکار د پیغمبرﷺ د رسالت څخه ـ أو په خط کښې بسم الله لیکل ـ أو د مکې څخه بندول ـ

دریـم ـ دا احتـمـال هم لری ـ د پلارانو اقتداء کول ـ د هغوی د یـو عادت خلاف هم نه کول ـ أو د بل چا طاعت نه کول ـ لکه وائي ـ انا وجدنا آبائنا علی أمة و انا علی آثارهم مقتدون ـ یعنی ـ مـونـږ خپـل پـلاران پـه یو ملت مندلی دی ـ أو د هغوی پسی روان یو ـ

امـام آلـوسیؒ د جاهلیت د حمیت په باره کښې لیکلی دی ـ چـې دوی بـه تـکبر کولو أو په اسلام کښې دځلیدل شرم کړلـو ـ امـام راغبؒ وائي ـ چې د جاهلیت حمیت بغیر د دلیل نـه تـابـعـداری ته وائي ـ او امام بیضاویؒ وائي ـ چې دا حمیت د

حق نه د منع کیدو ذریعه ده ۔

## دریم فصل

## تول غیر مشهوره خلق به د حق

## دلاری په مصیبتونو أو آزمائشونو کښې یو شان وی

نو مؤمنانو ته خه معلومه ده ۔ چې د حق په لاره کښې به ډیر کړاؤنه أو مصیبتونه مخې ته راځي ۔ أو د دور طاغوتي طاقتونه په هغوی هر قسم ظلم أو ستم کوی ۔ أو دا یو موټے حق پرسته جماعت د خپل رب په وعدو أو مدد پوره یقین لری ۔ أو هغوی د جاهلیت أو د کفر د هر یو رسم أو رواج نه د بائیکاټ اعلان کوی ۔ أو هغوی ته دا خه معلومه ده ۔ چې

هغوی ته به د حق په لاره کښې لوګه ، یره ، غربت ، زندان أو د مرګ مقابله کول راځي ـ څنګه چي د پخوانۍ زمانې د حق پرستو سره کیدل ـ هم دغه شان د الله تعالی فرمان دے ـ

و لنبلونكم بشيء من الخوف و الجوع و نقص من الأموال و الأنفس و الثمرات و بشر الصابرين ـ

ترجمه ـ أو کیدے شي ـ مونږ (الله تعالی) آزمائش راولو ـ په تاسو باندې د لږې یرې ـ أو لوګې أو د مالونو أو ځانونو أو دمیوؤ د نقصان أو زیرے ورکړې هغه صبر کونکو ته ـ

امام ابن جریر د دې آیت په تفسیر کښې لیکي ـ چي دا دنیا یو إمتحان دے ـ أو انبیاء کرامو أو د هغوی په تابعدارۍ کونکو به ډیر آزمائشونه راځي ـ الله تعالی فرمائي ـ

مستهم البأساء و الضراء و زلزلوا ـ ترجمه ـ أو هغوی ته سختي أو تکلیف ورکړے شو ـ أو اودرزولے شو ـ

په تاسو به د دښمن یره أو قحط راځي ـ أو د دښمن سره به مو جنګ وي ـ هغې سره به تاسو شهیدان شئ ـ أو ستاسو مالونه به تباه شي ـ په دې وخت کښې به الله تعالی په

تاسو کښې مؤمنان أو منافقان جدا کړي ـ

سید قطب شهیدؒ لیکی ـ چې په کومې عقیدې أو نظرئے انسان محنت کوی ـ أو د هغې په لاره کښې تکلیفونه برداشت کوی ـ أو هغه له د هغه عقیدې د قدر احساس وی ـ أو مسلمانان دخپلې عقیدې د پاره داسې قربانۍ ورکوی ـ چې باطل پرسته خلق هم د حق طرفته راتلل شروع کړي ـ ځکه چې هغوی پوهه شي ـ چې د مؤمنانو عقیده واقعی قیمتی ده ـ که دا دومره قیمتی نه وے ـ نو مؤمنانو به دومره قربانۍ نه ورکولے ـ أو په هغه وخت کښې ټول شیطانی وهمونه أو خیالونه ختم شی ـ أو د الله تعالی دین أو صحیح عقیده باقی پاتې شي ـ

**<u>په معاشره کښې به نا أشنا خلق</u>**

**<u>أو مؤمنان ملامت أو وطن نه په ویستو مجبور شی</u>**

مؤمنان أو نا أشنا خلق به په خپله قبیله ، کور أو معاشره کښې هم ملامت وی ـ أو خلق ورته پیغور ورکوی ـ امام ابو الفرج ابن رجب حنبلیؒ فرمائی چې۔ څنګه چې په مسند أحمد کښې دی ـ چې عباره ابن صامتؓ أو فرمائیل ـ

چې داسې وخت به راشي - چې د نبی اکرمﷺ هیڅ قدر به نه کیږي - أو ابن مسعودؓ أوفرمائیل - چې داسې زمانه به راشي - چې مؤمنان به په ټوله دنیا کښې ذلیل شمارلے شي - أو فساد کونکي به دوی ته هر قسمه تکلیفونه ورکوی - أو دا خو ظاهره ده - چې مومن به څنګه په کفر أو شرک أوخواهشونو کښې مبتلا کیږي -

سید قطب شهیدؒ لیکي - چې د الله تعالی فرمان دے

- وما کان جواب قومه الا ان قالو أخرجوهم من قریتکم ، انهم أناس یتطهرون -

ترجمه - أو هیڅ جواب ورنه کړو - د هغوی قوم مګر دا ئې وؤ وئیل - چې وباسی دوی د خپل ځائے نه دغه خلق ډیر پاک أوسیدل غواړي -

نو دغه خبره ده - چې نیک مؤمنان أو صادق خلق د جاهلیت پرستو کافرو أو مشرکینو سره هیڅ کله زندګی نشي تیرولے - ځکه چې د هغوی په منځ کښې د زمکې أو د آسمان فرق دے - ابن کثیرؒ لیکي - چې الله تعالی فرمائي -

انهم أناس یتطهرون -

ترجمه ۔ دغه خلق ډير پاک أوسيدل غواړی ۔

امـام قتـاده فـرمـائـی ۔ چـی هغـه بغيـر د عيـب نـه بـدناميږی ۔ امام مناویؒ فرمائی ۔ چی د اسلام ابتداء په نا أشنا ، غيـر مشهـوره أو ډيـرو کمو خلقو کښی وشوه ۔ أو بيا اسلام پـه ټـولـه دنيا کښی خور شو ۔ نو څنګه چی په ابتداء کښی د اسـلام حفاظت مؤمنانو ، غريبانو أو مجبوره خلقو اوکړو ۔ نو دغسـی بـه پـه آخـری زمـانـه کښـی هم دغسی خلق د دی دين حفـاظـت کـوی ۔ أو امـام طيبیؒ فرمائی ۔ چی دغی ناأشنا أو مـجبـوره خـلـقـو تـه د جـنت زيرے دے ۔امـام ابن الأثيرؒ أو امـام ترمذیؒ دا حديث هم نقل کړے دے ۔ چی دا خلق به داسی وی ۔ چـی سنت رسولﷺ کښی فساد أو د هغی د پريښودو نه بعد بـه اصـلاح کـوی ۔ أو د مـحـمـدﷺ پـه دغـه طريقو به عمل کوی ۔

## يهود و نصاری أو کافران

## به د دی مسلمانانو تعاقب کوی

تـاريـخ مـونـږ تـه دا وائی ۔ چـی يهـوديانو أو نصاراؤ د اسـلام خـلاف څـومـره سـازشـونـه جـوړ کړل۔ أو هغوی نبی

اکرم ﷺ د دعوت نه منع کول غوښتل۔

ابـن کثیـر لیـکـی چـی الـلـه تعالی فرمائی ۔ قل یا أهل الـکتاب لم تصدون عن سبیل اللّٰه من آمن تبغونها عوجا و أنتم شهداء، و ما اللّٰه بغافل عما تعملون ۔

تـرجـمـه ۔ نـو أووایـه اے اهل کتابو څه له منع کوی۔ د الـلـه د لاری نـه ایـمـان راوړونـکـی ۔ أو أوایه لټوی تاسو په دوی کښـی عیـب أو تاسو پخپله پو هیږی ۔ چی الله تعالی ستاسو د دغه کار نه بی خبره نهٔ دے ۔

